PASHTO

# څنګه کار کوي: د مهاجرینو لپاره لارښود NHS

د وړیا روغتیایي معلوماتو او مشورې ترلاسه کولو لپاره د 111 په ډایلولو سره د NHS له 24 ساعته خدمتونو وړیا تلیفوني کرښې سره اړیکه نیولی شئ. په خپله ژبه کې د "ژباړن لطفاً" په ویلو سره د ژباړونکي غوښتنه وکړئ.

## فارمسي- اساسي درمل

درمل جوړونکي کولی شي د یو لړ کوچنیو ناروغیو لپاره لکه ټوخی، زکام، د ستوني درد، د ګېډې تکلیف او درد او ناارامۍ لپاره کلینیکي مشورې او درمل وړاندې کړي. ډاکټر ته د تګ یا د اړتیا یا نورو روغتیایي متخصصینو ته ستاسو د لارښوونې پر مهال د اړتیا وړ مرستې له تر لاسه کولو څخه د ډاډمنېدو لپاره به درمل جوړونکي تاسو ته خبر درکړي. همدارنګه د کوچنیو ناروغیو لپاره درمل یا د لومړنیو مرستو توکي له درملتون یا سوپر مارکېټ څخه اخیستلی شئ؛ د نږدې درملتون موندلو لپاره، لاندې لینک ته ورشئ: www.nhs.uk/service-search/pharmacy/find-a-pharmacy

## د غاښونو او سترګو ډاکټران- د غاښونو او سترګو پاملرنه

د غاښونو او سترګو ډاکټران- د غاښونو او سترګو پاملرنه
د غاښونو ډاکټر موندلو لپاره: www.nhs.uk/service-search/find-a-dentist
د سترګو ډاکټر موندلو لپاره: www.nhs.uk/using-the-nhs/nhs-services/opticians/
که مو غاښ درد کوي، د غاښونو د پاملرنې بیړینو خدمتونو ته په 111 زنګ ووهئ.

## د عمومي ډاکټر (GP) تشخیصیه یا طبي مرکز - طبي مدیریت، د اوږدمهاله پاملرنې همغږي او د روغتون متخصصینو ته لاسرسی

یو عمومي ډاکټر کولی شي طبي مشوره وړاندې کړي، تشخیص چمتو کړي او د درمل توصیه کړي. دوی ممکن د ډېرو فزیکي او رواني روغتیایي اندیښنو لپاره ستاسو د اړیکې لومړی ټکی وي. عمومي ډاکټر ستاسو د اوږدمهاله روغتیایي پاملرنې همغږي کولو او اداره کولو مسولیت هم لري او که د روغتون نورو تخصصي خدمتونو ته اړتیا لرئ، تاسو ورته راجع کولی شي. د روغتیایي اړتیاو پوره کولو لپاره غوره چې په یوه عمومي مرکز کې راجستر شئ. www.nhs.uk/nhs-services/gps/how-to-register-with-a-gp-surgery/

## د ټولنې روغتیایي خدمتونه – د امیندواري، د ماشوم روغتیا او د امیندوارۍ د مخنیوي خدمتونه

ځینې روغتیایي خدمتونه ته په ټولنه کې لاسرسی شته، نه په روغتونونو کې. پدې کې رواني روغتیا، د ماشوم روغتیا او تر زېږون مخکې خدمتونه او د جنسي روغتیا او کورنۍ تنظیم کلینیکونه شامل دي.

## د بیړنۍ درملنې مرکزونه - کوچني ټپونه یا بیړنۍ طبي مشوره

که د کوچنیو ټپونو لکه د پرې کېدلو، اوښتلو او کوچنیو ماتېدلو یا بیړنۍ طبي مشورې ته اړتیا لرئ، بیړنۍ طبي، تاسو کولی شئ په مستقیم ډول له مخکې وخت اخیستو پرته د عاجلې پاملرنې مرکز ته لاړ شئ. دا مرکزونه معمولا د ورځې په ساعتونو کې خلاص وي.

## بیړني خدمتونه - طبي بیړنۍ یا ژوند ګواښونکي حالت

که څوک سخت ناروغ یا ټپي وي او ژوند یې په خطر کې وي، 999 ته زنګ ووهئ. د تلیفون آپرېټر به تاسو ته مشوره درکړي چې څه وکړئ یا چیرته لاړ شئ. یو امبولانس به ښایي د درملنې یا روغتون ته د ناروغ لېږد لپاره درواستول شي. د روغتون د حادثې او عاجله څانګه (A&E) د کال په هره ورځ کې 24 ساعته خلاصه وي. تاسو دغو خدمتونو ته مستقیم او له ملاقات پرته لاسرسی موندلی شئ. www.nhs.uk/nhs-services/urgent-and-emergency-care-services/when-to-call-999/

## بیړني رواني روغتیا – د ځانوژنې فکرونه یا ځان ته جدي زیان رسونه

که مو خپل ځان ته جدي زیان رسولی وي یا د زیان رسولو په حال کې یاست، د امبولانس لپاره 999 ته زنګ ووهئ یا مستقیم A&E ته لاړ شئ. که د ځانوژنې په اړه فکر کوئ، 116 123 ته په زنګ وهلو سره په Samaritans کې له چا سره خبرې وکړئ.

# د روغتیا پاملرنې لپاره ستاسو حقونه: د مهاجرینو لپاره لارښود




هر څوک حق لري چې ځان له یوه عمومي ډاکټر سره ثبت کړي
تاسو د پتې ثبوت، د کډوالۍ وضعیت، ID یا یوې NHS شمیرې ته اړتیا نه لرئ.
/www.nhs.uk/nhs-services/gps/how-to-register-with-a-gp-surgery
خپل نږدې ډاکټر ومومئ او آنلاین نوم‌لیکنه وکړئ.
که له GP سره په راجستر کولو کې ستونزه لرئ نو تاسو کولی شئ:

- د GP ته د لاسرسي کارت ډاونلوډ کړئ او دا د GP پذیرش ته وښایاس
/www.doctorsoftheworld.org.uk/gp-access-cards
- د مرستې لپاره د NHS انګلستان (0300 311 22 33) یا د نړۍ ډاکټرانو (0808 1647 686) ته ټیلیفون وکړئ



دغه روغتیایي خدمتونه هر چا ته وړیا دي

- GP مشوره او درملنه
- هغه خدمتونه چې د NHS 111 ټیلیفوني مشاورې کرښې د یوې برخې په توګه وړاندې کېږي
- په یوه A&E څانګه، walk-in centre، د کوچنیو ټپونو واحد یا د بیړني پاملرنې مرکز کې چمتو شوي د پېښو او عاجل خدمتونه
- د ځینو عفوني او ساري جنسي ناروغیو تشخیص او درملنه
- د NHS خدمتونه د COVID-19 څېړنې، تشخیص، درملنې او واکسین کولو لپاره چمتو شوي
- د کورنۍ تنظیم خدمتونه (د میندوارۍ مخنیوی)
- د شکنجې، د ښځو د تناسلي آلت د معیوبولو، کورني یا جنسي تاوتریخوالی له امله د رامنځته شوي جسمي یا رواني حالت درملنه







تخصصي روغتیایی خدمتونه د دغو مواردو لپاره هم وړیا دي:

- کډوال
- پناه غوښتونکي
- د عصري غلامۍ قربانیان یا شکمن قربانیان
- اړوند کسان

هغه کسان چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک یې رد شوی وي، ښايي لاهم د NHS وړیا خدماتو ته لاسرسی ولري. وګورئ چې تاسو د وړیا روغتیایي پاملرنې مستحق یاست.
www.gov.uk/guidance/nhs-entitlements-migrant-health-guide
د نسخې درمل، د غاښونو او سترګو درملنه معمولا په انګلستان کې وړیا نه ده، خو هغه پناه غوښتونکي چې د کورنیو چارو اداره یې مالي ملاتړ کوي، د روغتیایي لګښتونو د مرستې ترلاسه کولو لپاره به د HC2 سند ورکړل شي. هرڅوک د دغه ملاتړ لپاره اپلای کولی شي، د اپلای د څرنګوالي په اړه نورې توصیې دلته وګورئ.
www.gov.uk/guidance/nhs-entitlements-migrant-health-guide



February 2022

UK Health Security Agency

In partnership with

MAYOR OF LONDON

NHS